مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲/۰۹/۱۸

# هیله ده چې د نجونو د تعلیم مخه څوک ونه نیسي

**د نجونو د تعلیم مخنیوی که څوک د ښځینوو د ستر د خوندیتوب له پاره کوي، دا کار ناسم دی، د نجونو د تعلیم مخه نیول په حقیقت کې د خپل هیواد د ښځینوو د ستر لیلامول دي. که نجونې مو تعلیم ونه کړي، تاسو به سبا په خپل کور کې نه ډاکتر ولرئ او نه هم د بلې کومې داسې برخې متخصصه چې د هغې کار ستا د کور د ښځینوو ستر خوندي کوي.**

**که ته په خپل کور، کلي، ښار او وطن کې ښځینه ډاکتره ونه لرې، سبا به ستا د خپل کاله زنان ناروغه د ګاونډي نارینه ډاکتر پر میز باندې پرته وي او پردی نارینه ډاکتر به بیا تا ته وایي چې: د باندې ودرېږه چې زه خپل مریض معاینه کوم، دا یې یوه بېلګه ده.**

**اوس دې هغه ښاغلي چې د نجونو د تعلیم مخه نیسي، خپله سوچ وکړي چې د نجونو د تعلیم مخه نیول به نورې څه ناوړه پایلې ولرئ؟**

د نجونو د تعلیم مخه نیول له ځان، خلکو، نوي نسل او له وطن سره جفا ده.

د چا د تعلیم مخه نیول، د کرکې شیندل دي. تر څو به د دې خلکو د ذهن په کرونده کې کرکه شیندل کېږي؟ لطفاً کرکه مه شیندئ!

دا یو عیني حقیقت دی چې ښځه د هرې ټولنې نیم بدن دی او په نیم بدن نه الوت کېدای شي او نه د ژوند ارابه پرمخ بېول کېدای شي. هر څوک چې اوس د نجونو د تعلیم مخه نیسي، د راتلونکې ټولنې نیم بدن ته اور اچوي؛ نو لطفاً د نجونو د تعلیم مخه مه ډبوئ.

دا څو ورځې کېږي چې په مېډیا کې د ښوونې روزنې وزارت د یوې اعلامیې خبرې او بحثونه کېږي. په اعلامیه کې یوازې له هلکانو او نارینه ښوونکو نه غوښتل شوي چې ښونځیو ته دې ورشي. دا د اعلامیې متن دی:


د پوهنې وزارت پر فېسبوک پاڼه خپره شوې اعلامیه کې د ښځینه زده کوونکو یا ښځینه ښوونکو په اړه څه نه دي ویل شوي او د میلیونو ښځینه زده کوونکو برخلیک ناروښانه پاتې دی.

اعلامیه کې راغلي چې د "نارینه وو ټول منځني ښوونځي، لېسې او د نارینه وو رسمي مدرسو ته خبر ورکول کېږي چې د خپلو زکړو پروسه د سنبلې له ۲۷ نېټې څخه پیل کړي او د دې له مخې ټول نارینه زدکوونکي او ښوونکي باید خپلو ښوونځیو ته حاضر شي".

د پوهنې وزارت خبرتیا

د هېواد ټولو امارتي او خصوصي ښوونځیو، رسمي دارالعلومونو او رسمي مدارسو ته خبر ورکول کیږي:

۱: څرنګه چې مخکې ټولو ښوونځیو او رسمي مدارسو ته تر شپږم ټولګي پورې د تعلیمي بهیر د پیل خبر ورکړل شوی وو د یادې تدریجي شروع په سلسله کې اوس د ذکورو (نارینه) ټولو متوسطه او لیسه ښوونځیو او رسمي مدارسو ته خبر ورکول کیږي تر څو د سنبلې د میاشتې په ۲۷ نېټه د شنبې په ورځ خپل تعلیمي او ښوونیز بهیر پیل کړي، ټول ذکور ښوونکي او زده کونکي باید خپل تعلیمي ادارو ته حاضر شي.

۲: ټول ولایتي او اړوند مسئولین دې په دې اړه لازم اجراءات ترسره کړي.

#دپوهنې_وزارت_وزارت_معارف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

اوس خلکو ته دا تشویش پیدا شوی دی چي د ښونځیو له نجونو زده کونکو او ښځینه ښونکوو سره به څه چلن غوره کېږي؟

د معارف وزارت د دې اعلامیې له مخې خلکو سره دا تشویش رامنځته شوی دی چې ګنې د طالبانو اسلامي امارت مقامات د ښځینوو له تعلیم سره مخالف دي. دې اعلامیې ته ګنو خلکو عکس العملونه ښودلي دي او خپل تشویش یې څرګند کړی دی چې که نجونې له ښونځیو راوګرځول شي، عواقب به یې هم د طالبانو رژیم ته او هم ټولنې ته په نږدې او لرې راتلونکې کې ډېر ناوړه وي.

**که دا کار څوک د ښځینوو د ستر د خوندیتوب له پاره کوي، دا کار ناسم دی، د نجونو د تعلیم مخه نیول په حقیقت کې د خپل هیواد د ښځینوو د ستر لیلامول دي. که نجونې مو تعلیم ونه کړي، تاسو به سبا په خپل کور کې نه ډاکټر ولرئ او نه هم د بلې کومې داسې برخې متخصصه چې د هغې کار ستا د کور د ښځینوو ستر خوندي کوي. که ته په خپل کور، کلي، ښار او وطن کې ښځینه ډاکتره ونه لرې، سبا به ستا د خپل کاله زنانه د ګاونډي نارینه ډاکتر پر میز باندې پرته وي او پردی نارینه ډاکتر به بیا تا ته وایي چې د باندې ودرېږه چې زه خپل مریض معاینه کوم. دا یې یوه بېلګه ده؛ اوس دې هغه ښاغلي چې د نجونو د تعلیم مخه نیسي، خپله سوچ وکړي چې د نجونو د تعلیم مخه نیول به نوري څه ناوړه پایلې ولري؟**

زه خپله په دې عقیده یم چې د یوې ټولنې د پرمختګ اصلي بنسټ تعلیم دی، که څوک د افغانستان نیمایي کوچنیان (نجونې) له تعلیم نه منع کوي، څرګنده خبره ده چې افغانستان د پرمختګ او ابادۍ بنسټ همدا اوس ورانوي، که دا کار یې خپل پلان او پروګرام وي او که یې د نورو په لمسه کوي، په دواړو صورتونو کې یې ناسم کار دی.

نجونې له تعلیم نه پاتې کېدل، په ټولنه کې ګڼې ستونزې رامنځته کوي. که یوه مور بې تعلیمه وي، څنګه به خپلو ماشومانو او کوچنیانو ته د وطن مینه او د نوي ژوند طریقه ورزده کوي؟
د ۲۰۲۰ ام کال په مارچ میاشت کې د «په کلینک کې ښځینه ډاکتره شته؟» ترسرلیک لاندې د یوې مقالې په ترڅ کې، د ښځینه ډاکترۍ د نشتوالي د ستونزې په باب ما داسې لیکلي وو:

«زموږ ډېری نارینه، چې ځان ډېر غیرتي هم ورته ښکاري، کله چې خپل ښځینه ناروغ کلینک یا روغتون ته ورسوي، پر ژبه یې دا پوښتنه جاري وي:

ښځینه ډاکتر شته؟

نو وه کاکا!

وه ماما!

وه پلاره!

وه وروره!

وه ښاغلیه!

ته چې خپله خور ـ لور ښوونځي او پوهنځي ته نه لیږې او لیک لوست او تعلیم ته یې نه پرېږدې، ښځینه ډاکتره به له کومه شي، ښځینه ډاکتره خو له اسمانه نه را اوري چې تیاره به ستا د ښځینه ناروغ د درملنې له پاره ناسته وي.

زموږ د ټولنې ډېره سلنه خلک له دې لاندې حقایقو سره تر اوسه پورې ډېر واټن لري چې پوه شي:

ـ ښځه د نارینه نیم بدن دی،

ـ ښځه مور ده،

ـ ښځه خور ده،

ـ ښځه لور ده،

ـ ښځه د کور ډیوه ده،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ـ ښځه د نارينه د الوت ځواکمن وزردی.»

د ۲۰۱۷ ام کال د اکتوبر مياشت په اوړدو کې بي بي سي يو راپور خپور کړ چې افغانستان د هغو هېوادونو په ډله کې ځلورم دی چې شرايط يې د نجونو د زدکړو له پاره ډېر ناوړه بلل شوي دي. له همدې ستونزې سره اړوند ما ۲۰۱۷ ام کال د اکتوبر پر اولسمه نېټه يوه مقاله خپره کړ چې سرليک مې ورته «يوه بله نيکنامي؟» ټاکلی و.

د هغې مقالې په ترڅ کې ما داسې ليکلي وو:

«د نجونو د ورځې د لمانځلو په لړ کې داسې تاييد شوي او نا تاييد شوي ارقام هم وړاندې شول چې د دوو ميليونو په شا و خوا کې نجونې ښوونځي ته د تگ له حق نه محرومې دي او د دې محروميت تر څنگه د تاوتريخوالي له ظالمانه ډولونو سره هم مخ دي. که ښوونځي ته لاړې هم شي، اويا سلنه نجونې په لړ لوړ سن او لړ جگ ټولگي کې نه پرېښودل کېږي چې ښوونځي ته ادامه ورکړي؛ له دغو عيني ستونزو سره، سره د ښوونې او روزنې وزارت هم په ټاکلي وخت د نجونو ورځ ولمانځله.

وروسته له دې چې په ميديا کې د نجونو د ورځې درز دروز لړ غلی شو، بي بي سي داسې يو رپوټ خپور کړ چې هر بادرکه او با احساسه انسان ته ټکان ورکوي. د ياد رپوټ سرليک داسې وو:«افغانستان د نجونو تعليم لپاره ځلورم ناوړه هېواد»

د بي بي سي په ياد راپور کې افغانستان د هغو هيوادونو په ډله کې ځلورم ښودل شوی دی چې نجونې په کې د تعليم نا وړه حالت لري.»

هغه وخت مو د دې غم کاوه چې ولې مو د هېواد شرايط د نجونو د زدکړو له پاره ناوړه دي، اوس که په ټول هېواد کې د نجونو د زدکړو مخنيوی وشي، څه به کوو؟

د نجونو له تعليم سره په ټوله سيمه کې د افغانستان خلک مينه لري، د دې مينې ډېر ښه مثال او ثبوت هغه پلار دی چې له خپل کوره دولس کيلو متره لرې ښوونځي ته خپلې درې لورگانې د زدکړو له پاره بيايي. نو چې دومره په مينې سره خلک خپلې لونې ښونځيو ته لېږي/ بيايي، ولې يې د زدکړو مخه ونيول شي؟

د معارف وزارت پاسنی اعلاميې ته په کتو سره تر اوسه په قطعي ډول نه دې ويل شوي چې نجونې دې ښونځيو ته نه راځي، هيله ده چې د دولت، په تېره د معارف مسؤلين د نجونو د زدکړو مخنيوی ونکړي. سره له دې چې په اعلاميه کې ښونځيو ته د نجونو د نه ورتگ ته اشاره نه ده شوې، خو بيا هم عامو خلکو
او فرهنگيانو عکس العلمونه ښودلي دي. څو بېلگې به يې دلته وړاندې کړم:

يو فرهنگي دوست (*Habib Waqar*) ښوونځي ته د نجونو نه پرېښودلو په برخه کې چې د ده لورگانې هم په کې دي، داسې ليکلي وو:

زموږ اوښکې

---

ايمل ته مې وويل:

سبا دې ښوونځی پيلېږي.

ملالۍ چيغه کړه:

وووووووی څومره ښه.

ورته ومې ويل:

ستاسې نه، يوازې د هلکانو پيلېږي.

سترگې يې له اوښکو ډکې شوې او کوټې ته ننوته.

ما هم له ډېر وخت وروسته ښه ډېر وژړل...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يادونه: د افغانستان تر ټولو کوچنۍ ليکواله ملالی او خور يې صفيه سږ کال د ميلاد اتل خصوصي ليسې د اووم ټولګي کوونکې وې.

که د امارت پاليسي د نجونو پر مخ د ښونځيو دروازې او د پوهنتون ټولګي وتړي، څه ارمانونه او استعدادونه به خاورې شي؟

دا دوې بېلګه وګورئ:

«زما کشره خور فوزيه وردګ نوميږی...
هغی ان د مکتب د دوهم او دريم صنف په کتابونو او کتابچو باندی خپل نوم ډاکتر فوزيه وردګ ليکلی وو

د پلار تخلص مو غفوری دی
کله مو چی الکترونيکی تذکری اخيستی د پلارنی تخلص خلاف مې ورته تخلص وردګ وليکه او دا يو ارمان مې يې ور پوره کړ....
تر شپږم صنف يې وردګو کی مکتب ولوست نور نو هلته ۱.۱.۱ دا پنځلس کاله تر شپږم پورته د نجونو مکتب ته اجازه نه ورکوله...
کابل ته مو را تبديل کړه او اوس اتم صنف کی وه...
هغی له ډاکټری سره دومره مينه لرله چی ان زما د کاکا واړه اولادونو يی په زور مجبور کړی وو چی هغی ته ډاکتره ووايی...
نن مې د ماښام د ډوډې په وخت هغی ته کتل په خندا يی زما د مور سره خبری کولی څکه هغه خبره نه ده چی هغوی ته شايد نور د تعليم او تحصيل اجازه ور نکړل شی...
دوه مړی ډوډی مې وخوړه نور هماسی نا هيلی له دسترخوان راپورته شوم...
نن مې ځان ناتوانه حس کړ ځکه کيدای شی د خپلی وړی خور ارمان مې پوره نشم کړای...
زړه تنګون- ناتوانی – مجبوريت»

دا هم د ښځو او نجونو پرمخ د کار او ښونځيو د تړلو په برخه کې د مريم امر خيلې نظر:

«لطفا د نجونو په ښوونځيو بنديز مه لګوئ. پرېږدئ چې نجونې خپلې زده کړې وکړي.

افغانه لورکی له ښوونځي او پوهنتون مه شړئ، مه يې منع کوئ.

ښځې په تورو رنګونو کې مه ګنډئ!

تور رنګ د افغان ښځې ننۍ راتلونکې تياره کړه که افغان ښځه د تورو تياره خونو په زولنو او خلورو ديوالونو کې نه واي راحصاره کړې. نن به ددې خاورې بچې شعوري روزل کېدل، ادئ به مينه، ژوند او نرۍ سره سيالۍ سبق ورښوده نه چې اوس د ادې له واکه وتلې په خپل سر جګړه او بدبختې زده کوي.

ښځې د ټولنې اساس او بنسټ دی.

ښځې د ټولنې کمزورې نه، بلکې د ملاتير حيثيت لري.

بې ښځې به دا وړی شړی نه کړې او نه به يې په يوازې ځان شل کړې نرۍ چې نن خومره پرمختللې ده نو د ښځو او نارينه و په مټ مخته تللې

نرواکې ټولنې ټل شاته پاتې دي او زموږ تير يې ښه مثال دی.

ښځې پرېږدئ چې خپلو دندو ته لاړې شي موږ په هېواد کې ډېرې درنې او زيارکښې ښځې دي چې خپله دنده يې خورا په عزت او د خپلو بچيانو لپاره حلاله روزي ګټلې.

لکه زه زرګونه افغان نجونې د کورنۍ لګښت او يوازينۍ د ګټې وټې غړې دي او هره يوه د وطن خدمت تر څنګ خپل مجبوريتونه هم ورله غاړې دي، په ډېره مېړانه خپلې کورنۍ بوج کټ مټ لکه يو زوی يا نارينه په غاړه اخيستی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د قاموسونه دات کم لويې پروژې مسؤل، پرکاره فرهنګي احمد ولي اڅکزي داسي نظر څرګند کړی دی:

«که د خپلو ښځينه ؤ پرده په رښتيا درته مهمه وي، نو د انجونو د لوړو زدکړو مخالفت مه کوئ، ځکه هغوی به ستاسو د باپرده ښځينه ؤ له پاره په ځانګړو ښځينه ادارو کي د ښوونځيو ښوونکي، د پوهنتون استاداني، ډاکټراني... جوړيږي. که يې د زدکړو مخالفت او مخنيوی وکړئ يا يې زدکړې ور ځنډنی کړئ، نو خدای مکړه باپرده مېرمني به مو د ګاونډي هيوادونو پر سرحد په اړولو را اړولو کي بې ستره کړئ.»

ډاکټر بهيج عثماني بيا ترنورو په جدي ډول داسي ويلي دي:

«د يوه داسي چا په توګه چي د انسان ذهني او رواني جوړښت راته تر يوه بريده مالوم دی په ټول مسئوليت دا خبره کوم چي حتا د يوې لنډې مودې لپاره له زدکړو او تعليم څخه د مېرمنو او نجونو بې‌برخي کول د دې سبب کيږي چي يوه ټولنه د ډېرو کالونو لپاره رنځوره او معيوبه شي.

په هغه کور کي چي ښځه پوهه او زدکړه ونلري که نرينه د زدکړو او پوهي اسمان ته هم ختلی وي امکان نلري سالم او له ذهني او اروايي پلوه روغ ماشومان ستر شي. دغه ناروغ ماشومان د سبا پلرونه او ميندې دي او په دې ډول دا معيوب تسلسل ادامه پيدا کوي.

په افغانه ټولنه کي له پېړيو، پېړيو را په دېخوا د وحشت، جګړو او ظلمونو يو تر ټولو ستر عامل د ښځو تعليم او زدکړو ته نه پام دی.»

د نجونو د تعليم مخنيوي ترخه تجربه خو د ااا مسؤلينو په نويمه لسيزه کي کړي وه، دوی ته، خلکو ته او وطن ته يې پايله مالومه شوه چي منفي وه، نو بيا هغه ناکامه او ترخه تجربه بايد تکرار نه شي. زه فکر کوم چي د ناکامو تجربو د تکرار ټول تاوان خلکو او ټولني ته رسېږي، خلک او ټولنه مه تاواني کوئ!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ